بسم الله الرحمن الرحیم

ستره محکمه

# جریده میزان

د سترې محکمې کاري ځرګندویه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زیاتره اسلاف لـه دې نه دا استنباط کوي، کـه پـه کائناتـو کې د حـق او عـدل ساتنه ملحوظـه نـه وای نـو د نـړۍ، نـړۍ والـو او ټولـو کائناتـو دا ټـول انتظام، ساتنه او انضبـاط سـره ګـډوډ کېـده.
تفسير کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

چهارشنبه ۲۹ سلواغه ۱۴۰۴ هـ ش　۱ رمضان المبارک ۱۴۴۷ هـ ق　۱۸ فبروری ۲۰۲۶ م　مسلسله شمېره (۱۲۶)

## گزارش مختصر ریاست عمومی امور کارکنان ستره محکمه طی ربع دوم سال ۱۴۴۷ هـ ق

ریاست عمومی امور کارکنان ستره محکمه در ربع دوم سال ۱۴۴۷هـ ق فعالیت‌های مهم ذیل را انجام داده‌است:

۱. طی ربع دوم از طرف ریاست عمومی امور کارکنان در سطح محاکم ملک در بخش امور کارکنان، اقدامات اداری متعددی انجام شده است؛ در این زمینه در مورد تعین و تبدیل (۱۲۹) تن از قضات و کارمندان اداری اجراآت لازم صورت گرفته است.

۲. در ربع دوم به منظور دریافت معلومات تحصیلی (۴۰۰) تن از قضات و کارمندان اداری، از مرجع مربوطه به گونه رسمی درخواست صورت گرفته است.

۳. طی ربع دوم بر اساس ضرورت و هدایت هیئت مربوطه (۶۲) تن از علمای کرام که در بخش قضائی وظیفه اجرا می‌کردند، به گونه خدمتی به محاکم مشخص اعزام گردیده‌اند و (۴۰۰) تن از علمای کرام به منظور تقرر قضائی بر اساس هدایت مقام ذیصلاح، جهت اشتراک در امتحان به ریاست عمومی تعلیمات قضائی معرفی شده‌اند که امتحان آن ها توسط هیئت محترم اخذ گردیده است.

٤. در ربع دوم گزارش‌های حاضری ماهوار منسوبین محاکم ولایات مورد بررسی قرار گرفته است.

۵. طی ربع دوم به منظور تکمیل بست‌های خالی در سطح مرکز و ولایات، در بخش‌های جمع‌آوری اسناد، ترتیب پیشنهادها و عرایض، تهیه آجندا، اطلاع‌رسانی به متقاضیان برای امتحان و ابلاغ نتایج، اقدامات لازم صورت گرفته است.


٦. فورم‌های ارزیابی (۲۱۵) تن از کارمندان ملکی مربوط ریاست‌های مرکزی و محاکم مرافعه جمع‌آوری و بررسی گردید؛ نتایج آن به گونه رسمی منظور و با ادارات مربوطه شریک ساخته شده است.

۷. برخی اسناد کاری مربوط به ریاست عمومی حقوق مانند: (کتب اندراج و ثبت دوسیه‌های حقوقی، کتب ثبت عرایض و اجراآت آن، جلب نامه و کتاب ثبت آن، اصلاح‌خط و کتاب ثبت آن و ضمانت‌خط) که در مرکز و ولایات در امور روزمره از آن استفاده می‌شود، به منظور تصویب و نهایی‌شدن تعقیب گردیده است.

۸. در ربع دوم نظریات اعضای مسلکی ریاست ارتقاء ظرفیت و ارزیابی اجراآت، گزارش و جدول تعلیمات‌نامه اجراآت ادارات حقوقی آماده و جهت نهائی‌سازی و تصویب به مقام عالی ستره محکمه ارسال گردیده است.

۹. طی ربع دوم برای مجاهدین ریاست امور امنیتی و اجرائیوی ستره محکمه یک برنامه آموزشی تحت عنوان (مهارت‌های اساسی کامپیوتر) ترتیب داده شده است.

۱۰. در ربع دوم به منظور اجرای پلان آموزشی و ارتقاء سطح مسلکی و مدیریتی کارمندان ستره محکمه، رهنمای جامع برگزاری سیمینارها در زمینه‌های ارتباطات، گزارش‌نویسی، مدیریت و نظارت ترتیب و تدوین گردیده است.




## د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د دویمې ربعې لنډ راپور

د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست د ۱۴۴۷هـ ق کال په دویمه ربعه کې لاندې مهم فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱. په دویمه ربعه کې د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست کاري طرزالعمل ترتیب، تنظیم او د ټاکلي هیئت له تائید وروسته له اړوند مرجع سره د تائیدۍ په موخه شریک شوی.

۲. په دویمه ربعه کې د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست د قراردادونو له ډلې د تیلو، تنظیفاتي توکو، مایع ګاز او د ژمني البسې قراردادونه نهایي شوي، چې تر اوسه یې شاوخوا (۸۰) سلنه اړوند اجناس اکمال او په ډیپوګانو کې ځای پر ځای شوي دي.

۳. په دویمه ربعه کې د یاد ریاست اړوند منسوبینو او مجاهدینو ته نږدې (۱۰۳۶) قلمه بېلابېل لوژستیکي، تعمیراتي، محروقاتي، البسوي، قرطاسیوي، مفروشاتي او نور اړین توکي اکمال او وېشل شوي دي.

٤. په دویمه ربعه کې د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست اړوند پرسونل لپاره په نظامي او مسلکي برخو کې د ظرفیت لوړولو پروګرامونه تنظیم شوي دي.

۵. په دویمه ربعه کې د خالد بن ولید (رضي‌الله عنه) د تعلیمي مرکز له قوماندانۍ څخه (۲۲۹) کسان فارغ شوي او هغوی ته تائیدلیکونه وېشل شوي دي.

٦. په دویمه ربعه کې د یاد ریاست د منسوبینو د نظامي او مسلکي وړتیاوو د لا لوړولو په موخه د کورنیو چارو محترم وزارت اړوند د کابل اسلامي ملي پولیسو د تعلیمي اکاډمۍ څلور تنه مجربو استادانو د همکارۍ په ډول په یوه تعلیمي دوره کې ګډون درلود، چې دا مهال د یاد مرکز په قوماندانۍ کې د کورنیو چارو وزارت د تائید شوي نصاب له مخې دیني، عقیدوي، اصلاحي، تعلیمي او نظامي زده کړې او د قضاتو د ساتنې ځانګړې تائید شوی نصاب د مجربو استادانو له لوري د معسکر مجاهدینو ته تدریس کېږي.

۷. په دویمه ربعه کې د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست اړوند د مجاهدینو د ستونزو د حل په موخه له بېلابېلو ادارو سره ګڼ شمېر استعلامونه او وړاندیزونه تبادله شوي دي.

۸. په دویمه ربعه کې د اداري ستونزو د حل لپاره له اړوندو مسؤولینو سره منظمې اونیزې غونډې او د یاد ریاست د چارو د پرمختګ، چټکتیا او ستونزو د مخنیوي په موخه په اونیز ډول له علماوو سره هم غونډې ترسره شوي دي.

## د کابل ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۳۶۱۸) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۲۸۱) وثیقې هم اجرا کړې دي

د کابل ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه، د وثیقو آمریتونو او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې (له ۱/ ۷/ ۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۲۹ /۷ / ۱۴۴۷ هـ ق) نېټې پورې (۳۶۱۸) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۲۸۱) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**د جزائي دوسیو په برخه کې:**

د کابل ولایت ټولو محاکمو په یوه میاشت کې د جزائي دوسیو په برخه کې (۱۹۰۰) دوسیو ته رسېدنه کړې ده.

**د حقوقي دوسیو په برخه کې:**

د کابل ولایت ټولو محاکمو په یوه میاشت کې د حقوقي دوسیو په برخه کې (۹۳۸) دوسیو ته رسېدنه کړې ده.

**د تجارتي دوسیو په برخه کې:**

د کابل ولایت ټولو محاکمو په یوه میاشت کې د تجارتي دوسیو په برخه کې (۷۸۰) دوسیو ته رسېدنه کړې ده.

**د وثیقو په برخه کې:**

د کابل ښار د وثیقو او سندونو د ثبت آمریتونو او د ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې (۲۲۸۱) بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

### د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته

**د عمر فاروق ﵁ په دوره کې قضاء:**

**دویمه برخه:**

**په فاروق سره د ده نومول:**

په تاریخ المدینه کې ابن شبه د ابو عمر او ذکوان څخه روایت نقل کړی، وایي: ما عائشې (رضي‌الله عنها) ته وویل: چا عمر ﵁ په فاروق ونوماوه؟ هغې وویل: نبي کریم ﷺ.
او د ایوب بن موسی څخه روایت دی، وایي چې رسول الله ﷺ وویل: بې شکه الله ﷻ حق د عمر په خوله او زړه ګرځولی دی او دی فاروق یعنې الله تعالی په ده سره د حق او باطل ترمنځ جلاوالی راوست. ( تاریخ المدینة لابن شبة:۶۶۲/۲)

**په امیر المؤمنین سره یې نومول:**

د مسلمانانو مشرانو کې عمر ﵁ لومړنی امیر دی، چې په امیرالمؤمنین سره نومول شوی، په تاریخ المدینه کې ابن شبه د عبدالعزیز بن عمران، هغه د خپل پلار او هغه د خپل نیکه څخه روایت کړی، چې وایي: یوه ورځ عمر ﵁ کښېناست، نو ویې ویل: په الله قسم هېڅ نه پوهېږو، چې څه وایو، ابوبکر ﵁ د رسول الله ﷺ ځای ناستی (خلیفه) و؛ نو آیا بل نوم شته؟ حاضرو کسانو وویل: (هو) امیر، ده وویل: نو ټولو به امیر بلل کېږو، نو مغیره بن شعبه وویل: موږ مؤمنانو یو او ته زموږ امیر یې، نو ته امیرالمؤمنین شوې، عمر ﵁ وویل: زه امیرالمؤمنین یم.

اخذلیک: تتمة النظام، ۶۴ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحیم راشد

## د سترې محکمې د امنيتي او اجرائيوي چارو رياست اړوند د حضرت خالد بن وليد (رضي الله عنه) د تعليمي مرکز له قوماندانۍ څخه (۱۴۰) تنه مجاهدين فارغ شول

د سترې محکمې د امنيتي او اجرائيوي چارو رياست اړوند د خالد بن وليد (رضي الله عنه) قوماندانۍ د نظامي زده کړو له آتمې دورې څخه؛ د شنبې په ورځ ( ۲۶ /۸/ ۱۴۴۷هـ ق) نېټه (۱۴۰) مجاهدين فارغ شول.

په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د سترې محکمې د جزا دېوان عمومي رئيس محترم مفتي عتيق الله (درويش)، د سترې محکمې د امنيتي او اجرائيوي چارو رئيس محترم حافظ نجيب الله (رفيع)، د ياد رياست مرستيالانو او د سترې محکمې نورو مسؤولينو او منسوبينو ګډون درلود.

غونډه د قرآنکريم د څو مبارکو آياتونو په تلاوت پيل شوه؛ ورپسې د سترې محکمې د جزا دېوان عمومي رئيس محترم مفتي عتيق الله (درويش) اسلامي نظام ته د خدمت، مسؤوليت د پوره او ښه اداينې په اړه تفصيلي خبرې وکړې او مجاهدينو ته يې په مسؤوليت کې د اخلاص، امانتدارۍ او بيدارۍ سپارښتنې وکړې.

نوموړي ټولو فارغو شويو مجاهدينو ته په خطاب کې ووېل، تاسو د اسلامي نظام خادمان ياست، هڅه وکړئ چې د حقيقي مجاهدينو په اخلاقو، مسلک او خواصو ځانونه مزين کړئ، د ولس خدمت وکړئ او خپل مسؤوليتونه په پوره امانتدارۍ او اخلاص ترسره کړئ.

دغه راز د سترې محکمې د امنيتي او اجرائيوي چارو رئيس فارغو شويو مجاهدينو ته د مبارکۍ ترڅنګ مهمې سپارښتنې او هدايات وکړل ووېل، په موږ او تاسو لازمه ده چې شپه ورځ د ولس د هوساينې او دوی د ستونزو د حل په موخه سترې وګالو او را سپارل شوي مسؤوليتونه د الهي احکامو په رڼا کې ترسره کړو.

همدا راز راغلو قدرمنو علماء کرامو هم له نظامي زده کړو څخه فارغ شوو مجاهدينو ته مبارکي ورکړه او په خپلو خبرو کې ووېل، د اسلام او اسلامي نظام د حاکمولو لپاره ډېرې ستونزې او خوارۍ ګالل شوې، د دغه حاکم اسلامي نظام د استحکام لپاره پر تاسو لازمه ده چې نظامي زده کړې وکړئ، د الله تعالی او د نظام حق په پوره توګه ادا کړئ.

د غونډې په دوام له نظامي زده کړو څخه ټولو فارغ شويو مجاهدينو ته له نظامي نمايشاتو او تکتيکي حرکاتو وړاندې کولو وروسته د فراغت سندونه (تائيدليکونه)ورکړل شول او غونډه په اختتاميه دعاء پای ته ورسېده.

## د کابل ولايت د ښاري ابتدائيه محکمې لخوا (۱۴) مجرمينو او متهمينو ته تعزيري سزا ورکړل شوه

د کابل ولايت د ښاري ابتدائيه محکمې د دويم زون د جزا دېوان د پرېکړې له مخې د اتو ښځو په ګډون (۱۴) کسانو ته د نامشروع اړيکو او قوادۍ په جرم او زنا په تور، په ۸/ ۸/ ۱۴۴۷هـ ق نېټه تعزيري سزا ورکړل شوه.

د جزا دېوان ياد کسان له پنځو مياشتو څخه تر يو کال پر تنفيذي بند او له ۲۵ څخه تر ۳۵ دُرو پر تعزيري سزا محکوم کړي وو؛ چې ياده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائيد وروسته پر مجرمينو او متهمينو تطبيق شوه.

## حکم جزای تعزیری بالای هشت مجرم در ولایت پروان تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی بگرام ولایت پروان بالای هشت تن به شمول سه زن به جرم داشتن روابط نامشروع؛ به تاریخ ۱۶/ ۸/ ۱۴۴۷ هـ ق در محضر عام حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محکمهٔ ابتدائیهٔ مجرمین را از یک سال تا چهار سال حبس تنفیذی و ۳۹- ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد.

حکم جزای تعزیری در حضور محترم الحاج مولوی میرآقا (ذبیح الله خالد) رئیس محکمهٔ مرافعه، ولسوال، قوماندان امنیه، آمرین استخبارات، امربالمعروف، نهی عن المنکر و سمع شکایات، علماء کرام و جمع کثیر مردم تطبیق شد.

## په لغمان ولايت کې څلورو مجرمينو ته تعزيري سزا ورکړل شوه

د لغمان ولايت د الينګار ولسوالۍ ابتدائيه محکمې د پرېکړې له مخې د دوو ښځو په ګډون څلورو کسانو ته له کوره د تېښتې او تښتولو په جرم، د دوشنبې په ورځ ۲۱/ ۸/ ۱۴۴۷ هـ ق په عام محضر کې تعزيري سزا ورکړل شوه.

ابتدائيه محکمې ياد مجرمين له شپږو مياشتو څخه تر نهه کاله پر تنفيذي بند او له ۲۰ څخه تر ۳۹ دُرو پر تعزيري سزا محکوم کړي وو؛ چې ياده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائيد وروسته پر مجرمينو تطبيق شوه.

## په زابل ولايت کې يوه مجرم ته تعزيري سزا ورکړل شوه

د زابل ولايت د شاه‌جوی ولسوالۍ ابتدائيه محکمې د پرېکړې له مخې يو کس ته د نامشروع اړيکو په جرم؛ د سه شنبې په ورځ ۲۲/ ۸/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه تعزيري سزا ورکړل شوه.

ابتدائيه محکمې ياد مجرم پر يو کال تنفيذي بند او ۳۰ دُرو تعزيري سزا محکوم کړی و؛ چې ياده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائيد وروسته پر مجرم تطبيق شوه.

د تعزيري سزا حکم د محاکمو او نورو امارتي ادارو د مسؤولينو او مراجعينو په شتون کې د يادې محکمې په انګړ کې پر مجرم تطبيق شو.

## حکم جزای تعزیری بالای سه متهم در ولایت کاپیسا تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی کوهبند ولایت کاپیسا بالای سه تن به اتهام سرقت؛ به تاریخ ۲۰/ ۸/ ۱۴۴۷ هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محکمهٔ ابتدائیهٔ متهمین را به دو ـ دو سال حبس تنفیذی و ۳۵- ۳۵ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد.

حکم جزای تعزیری در حضور مولوی محمد عمر (حقانی) رئیس محکمهٔ ابتدائیه؛ اعضای قضائی، مسؤولین دیگر ادارات امارتی، مجاهدین، کارمندان و مردم عام تطبیق شد.

## په روزګان ولايت کې يوه مجرم ته تعزيري سزا ورکړل شوه

د روزګان ولايت مرافعه محکمې جزا دېوان د پرېکړې له مخې يو کس ته پلار ته د ښکنځلو او سپکاوي په جرم؛ په ۱۷/ ۸/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه تعزيري سزا ورکړل شوه.

د جزا دېوان ياد مجرم په پنځه مياشتې تنفيذي بند او ۳۰دُرو تعزيري سزا محکوم کړی و؛ چې ياده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائيد وروسته پر مجرم تطبيق شوه.

## د زابل ولايت د شهرصفا ولسوالۍ د ابتدائيه محکمې د مسؤولينو په هڅو د قتل دوه موضوعات حل او فصل شول

د زابل ولايت د شهرصفا ولسوالۍ د ابتدائيه محکمې د رئيس محترم مفتي عزيزالله (افغان) په ډېرو هڅو؛ قومي مشرانو او سپين‌ږيرو په منځګړيتوب، د ترافيکي پېښو له امله رامنځته شوي د قتل دوه موضوعات، د ۱۴۴۷ هـ ق د شعبان المعظم مياشتې په ۸مه او ۱۵مه نېټه حل او فصل شول.

ياد موضوعات د (سوزکي او فلډر، واګنر موټر او موټرسيکل) د ټکر له امله رامنځته شوي وو؛ چې دوه کسان په کې وژل شوي او څلور نور ټپيان وو.

دغه موضوعات ابتدائيه محکمې ته تر راجع کېدو وروسته په غور او دقت وڅېړل شول، د دواړو موضوعاتو طرفين سولې ته ترغيب شول او دوی هم ومنله.

د قاتلينو لخوا د مقتولينو وارثينو ته ديت او د ټپيانو د درملنې په موخه څه اندازه پيسې ورکړل شوې؛ قاتلينو ته بخښنه وشوه او موضوعات يې رسماً پای ته ورسېدل.

## د سترې محکمې د قضائي تفتيش عمومي رياست مفتشينو د فراه ولايت له محاکمو او مرکزي زندان څخه ليدنه وکړه

د عاليقدرامیرالمؤمنين (حفظه‌الله تعالى) او د سترې محکمې عالي مقام د شفاهي هدايت په اساس د قضائي تفتيش عمومي رئيس محترم شيخ عبدالرحمن (فراهي) په مشرۍ يوه پلاوي چې مفتي محمد اسلام (مسلم)، مولوي فتح محمد (فاتح) او مولوي عبدالاحد (حماد) يې غړيتوب درلود، د روان ١٤٤٧هـ ق کال د شعبان المعظم مياشتې په لومړۍ نېټه فراه ولايت ته د محاکمو د تېرو فعاليتونو د څېړنو په موخه سفر وکړ.

دغه پلاوي د سفر او ليدنې په پيل کې د ياد ولايت د مرافعه محکمې له رئيس سره وکتل؛ ورپسې يې د بنديانو ستونزو د څېړلو په موخه د ياد ولايت له مرکزي زندان او توقيف‌خونو څخه ليدنه وکړه، د زندان اړوند ټولو نارينه، ښځينه او محجوزينو بنديانو بشپړ شهرت، کيفيت، اړتياوې او ستونزې يې له ځان سره وليکل او بيا يې له اړوند محاکمو سره شريک کړل.

ياد پلاوي د خپل کاري پلان له مخې د فراه ولايت د (۱۱) ولسواليو له ابتدائيه محاکمو، د حقوقو مديريتونو، د ښاري ابتدائيه او مرافعه محاکمو اړوند دېوانونو، د وثايقو او حقوقو آمريتونو، نظامي او اختصاصي محاکمو څخه جلا جلا ليدنه وکړه.

دغه پلاوي د څارنې بهير په ترڅ کې د يادو محاکمو له قضائي، اداري او مالي چارو هر اړخيزه پلټنه وکړه، د محاکمو د قضائي غړو او اداري کارکوونکو د سلوکي او مسلکي اړخونو معلومات يې واخيستل او د چارو د سمون په برخه کې يې ورته لازمې لارښوونې وکړې.

د قضائي تفتيش پلاوي د محاکمو اړوند شته ستونزې او کاري خنډونه له ځان سره وليکل او د ليدنې په وروستيو کې يې د ستونزو د حل، خنډونو د له منځه وړلو، د شته نيمګړتياوو د اکمال په اړه د ياد ولايت د مرافعه محکمې له رئيس سره تفاهمي ناسته وکړه او ځينې ستونزې يې په جلا جلا توګه ورسره شريکې کړې.

د پلټنې پلاوي د خپل سفر په جريان کې د ياد ولايت له محترم والي، مرستيال والي، استخباراتو رئيس، علماوو شورا رئيس او د ولسواليو مسؤولينو سره ناستې وکړې او د محاکمو د فعاليتونو د لا ښه پرمختګ او د ځينو اړونده ستونزو د حل په موخه يې د هغوی نظرونه واورېدل.

د قضائي تفتيش د څارنې او پلټنې پلاوي ياد سفر د ۱۴۴۷ هـ ق کال د شعبان المعظم مياشتې په ۲۲مه نېټه پای ته ورسېد.

## د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۶۱۸) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۵۱۵) وثیقې هم اجرا کړې دي

د بلخ ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه، د بلخ زون اختصاصي او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې (له ۵/ ۸/ ۱۴۴۷هـ ق نېټې څخه ۱۷ /۸ / ۱۴۴۷هـ ق) نېټې پورې (۶۱۸) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۵۱۵) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۴۷۱) حقوقي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۵۱) دوسیو په اړه قضائي قراروونه صادر شوي، (۸۳) دوسیې فیصله شوې، (۱۲۱) دوسیې مکتوبې مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۱۵۰) جزائي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۴۵) دوسیو په اړه قضائي قراروونه صادر شوي، (۱۰۲) دوسیې فیصله شوې، (۱۶) دوسیې مکتوبې مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۵۱۵) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم ولایت فاریاب طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۴۰۱) دوسیه، به تعداد (۴۰۵) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت فاریاب، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۸/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۱۵/ ۸/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۷۸) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۵۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۸) دوسیه فیصله شده، (۲۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۱۲) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۹۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۳) دوسیه فیصله شده، (۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت فاریاب به تعداد (۴۰۵) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## د ننګرهار ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۴۴۹) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۴۰) وثیقې هم اجرا کړې دي

د ننګرهار ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو او وثایقو آمریت په دوو اونیو کې (له ۱/ ۸/ ۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۱۵/ ۸/ ۱۴۴۷هـ ق) نېټې پورې (۴۴۹) دوسیو ته رسېدنه کړې او (۲۴۰) وثیقې یې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۱۷۴) حقوقي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۹۸) دوسیو په تړاو قضائي قراروونه صادر شوي، (۲۹) دوسیې فیصله شوې، (۵۱) دوسیې مکتوبې مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۲۳۷) جزائي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۶۴) دوسیو په تړاو قضائي قراروونه صادر شوي، (۱۲۳) دوسیې فیصله شوې، (۴۲) دوسیې مکتوبې مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په تجارتي برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۱۱۶) تجارتي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۳) دوسیو په تړاو قضائي قراروونه صادر شوي، (۱۳) دوسیې فیصله شوې، (۱۶) دوسیې مکتوبې مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۲۴۰) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم ولایت غزنی طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۲۹۰) دوسیه، به تعداد (۱۲۸) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت غزنی، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری، محکمهٔ نظامی زون غزنی و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۸/ ۱۴۴۷هـ ق الی ۱۵/ ۸/ ۱۴۴۷هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۵۵) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۲۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۷) دوسیه فیصله شده، (۳۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۹۵) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۱) دوسیه فیصله شده، (۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت غزنی به تعداد (۱۲۸) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت تخار طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۴۹۱) دوسیه، به تعداد (۱۸۳) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت تخار، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۸/ ۱۴۴۷هـ ق الی ۱۵/ ۸/ ۱۴۴۷هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت تخار به (۲۸۷) دوسیهٔ حقوقی رسیدگی صورت گرفته‌است.

از آن جمله در رابطه به (۱۷۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۷۰) دوسیه فیصله شده و (۳۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده‌است.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت تخار به (۲۰۴) دوسیهٔ جزائی رسیدگی صورت گرفته‌است.

از آن جمله در رابطه به (۱۰۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۹۳) دوسیه فیصله شده و (۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده‌است.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت تخار به تعداد (۱۸۳) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د میدان وردګ، پروان او کاپیسا ولایتونو د حقوقو آمریتونو په یوه میاشت کې (۹۹۶) عرض‌پاڼو او دوسیو ته رسېدنه کړې ده

د سترې محکمې د حقوقو عمومي ریاست اړوند د میدان وردګ، پروان او کاپیسا ولایتونو د حقوق آمریتونو په یوه میاشت کې له (۱/۷/۱۴۴۷ هـ ق څخه تر ۲۹ /۷ /۱۴۴۷هـ ق) نېټې پورې (۹۹۶) عرض‌پاڼو او دوسیو ته رسېدنه کړې ده؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**د عرض‌پاڼو په برخه کې:**

د میدان وردګ، پروان او کاپیسا ولایتونو د حقوقو آمریتونو په یوه میاشت کې د مدني، فامیلي او سوداګریزو دعواوو په برخه کې (۷۵۱) عرض‌پاڼو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه (۳۰۳) عرض‌پاڼې اصلاح او ابراء شوې، (۱۸۵) عرض‌پاڼې محاکمو ته لېږل شوې، (۱۳) عرض‌پاڼې نورو ادارو ته راجع شوې، (۲۵۰) عرض‌پاڼې حفظ شوې او پاتې عرض پاڼې تر کار لاندې دي.

**د دوسیو په برخه کې:**

د میدان وردګ، پروان او کاپیسا ولایتونو د حقوقو آمریتونو په یوه میاشت کې د مدني، فامیلي او سوداګریزو دعواوو په برخه کې (۲۴۵) دوسیو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه (۶۷) دوسیې تطبیق شوې، (۱۵) دوسیې محاکمو ته لېږل شوې، (۱۸) دوسیې نورو ادارو ته راجع شوې، (۱۴۵) دوسیې حفظ شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

## د کابل ولایت د حقوقو ریاست په دوو اونیو کې (۹۲۷) عرض‌پاڼو او دوسیو ته رسېدنه کړې ده

د سترې محکمې د حقوقو عمومي ریاست اړوند د کابل ولایت د حقوقو ریاست په دوو اونیو کې له ( ۱/ ۸/ ۱۴۴۷ هـ ق څخه تر ۱۵/ ۸/ ۱۴۴۷ هـ ق) نېټې پورې (۹۲۷) عرض‌پاڼو او دوسیو ته رسېدنه کړې ده؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**د عرض‌پاڼو په برخه کې:**

د کابل ولایت د حقوقو ریاست په دوو اونیو کې د مدني، فامیلي او سوداګریزو دعواوو په برخه کې (۳۶۲) عرض‌پاڼو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه (۶۳) عرض‌پاڼې اصلاح او ابراء شوې، (۱۴۶) عرض‌پاڼې محاکمو ته لېږل شوې، (۳۷) عرض‌پاڼې نورو ادارو ته راجع شوې، (۱۱۶) عرض‌پاڼې حفظ شوې او پاتې عرض پاڼې تر کار لاندې دي.

**د دوسیو په برخه کې:**

د کابل ولایت د حقوقو ریاست په دوو اونیو کې د مدني، فامیلي او سوداګریزو دعواوو په برخه کې (۵۶۵) دوسیو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه (۲۲۷) دوسیې تطبیق شوې، (۷۱) دوسیې محاکمو ته لېږل شوې، (۵۴) دوسیې نورو ادارو ته راجع شوې، ( ۲۱۳) دوسیې حفظ شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

مسؤول مدير: مولوي عبدالرحيم (راشد)
اډيټور : جوادالله (جاهد)
ډيزاين: حميدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندويه خپرونه
په مياشت کې درې ځله چاپيږي

# د سترې محکمې متحدالمآلونه

## د متحدالمآل ګڼه: ۲۶

**نېټه: ۱۴۴۷/۸/۱۷ هـ ق**

د سترې محکمې د تميزونو، رياستونو او محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د متحدالمآل نمبر (۲۳) مورخ ۱۴۴۷/۷/۲۲ هـ.ق د يادونې په هکله.

د ځينې محکمو استهداآت رارسېدلي ليکلي دي چې د دارالانشاء عمومي رياست د متحدالمآل نمبر (۲۳) مورخ ۱۴۴۷/۷/۲۲ هـ.ق په اخير کې د يادونې په هکله مرکزي تميز عالي رياست په مکتوب نمبر (۳۹۲۹) مورخ ۱۴۴۷/۷/۲۸ هـ.ق کې توضيح کړې چې د ياد متحدالمآل د يادونې سره ظاهراً په ټکر کې معلوميږي په همدې اساس د موضوع جريان د سترې محکمې محترم عالي مقام ته وړاندې شو په اړه يې د حکم مورخ ۱۴۴۷/۸/۱۷ هـ.ق په توسط محترم عالي مقام داسې هدايت وکړ:

«په ياد متحدالمآل کې يادونه داسې صراحت لري: «په محاکمو کې دې د موجوده او راتلونکو موضوعاتو په هکله د پورته ترتيب موافق اجراآت ترسره شي.» په دغه متن کې د (پورته ترتيب) څخه مراد دادی: هغه موضوعات چې د مشرتابه محترم عالي مقام ته استول نه غواړي که د مرافعې او د تميز د مستقلې فيصلې مرحلې ته په محاکمو کې موجوده موضوعات رسېدلي وي لکه مخکې ابتدائيې ته استول شوې د مرافعې او تميز مستقلې فيصلې وي يا نورې فيصلې وي او که تر دغه وروسته د مستقلې فيصلې مرحلې ته رسيږي ددغه موضوعاتو په اړه به مرافعه په خپل نوبت (د ابتدائيې د فيصلې تر دوه ځله نقض وروسته) د اداري اصولنامې د (۱۸۹) مادې د تبصرې مطابق مستقله فيصله کوي او تميز به په خپل نوبت (د مرافعې د فيصلې تر دوه ځله نقض وروسته) د اداري اصولنامې د (۲۶۳) مادې مطابق خپله مستقله فيصله کوي.

بناءً په محاکمو کې هغه موجوده موضوعات چې د مشرتابه محترم عالي مقام ته استول نه غواړي او د ابتدائيې فيصله يې دوه واره د مرافعې لخوا نقض شوې وي، مرافعې ته دې واستول شي او هغه موضوعات چې د مرافعې فيصله يې دوه واره د تميز لخوا نقض شوې وي تميز ته دې واستول شي همدغه ترتيب دې د پورته موادو موافق په موجوده او راتلونکو موضوعاتو کې عملي شي.»

د سترې محکمې د محترم عالي مقام ياد هدايت د عملي کولو په موخه تاسو ته واستول شو.

## د متحدالمآل ګڼه: ۲۷

**نېټه: ۱۴۴۷/۸/۱۹ هـ ق**

د سترې محکمې د تميزونو، رياستونو او محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د زوجينو د تفريق اصولنامې د انفاذ په هکله.

د زوجينو د تفريق اصولنامه چې د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی د فرمان نمبر (۱۸) مورخ ۱۴۴۷/۸/۴ هـ.ق په توسط توشيح شوې د دې متحدالمآل مل په (۱۶) ورقو کې د اصولي کړنو په موخه تاسو ته واستول شوه.

## د متحدالمآل ګڼه: ۲۸

**نېټه: ۱۴۴۷/۸/۲۰ هـ ق**

د سترې محکمې د تميزونو، رياستونو او محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د مخکې ناچله شوي افغانيو په هکله د مرکزی دارالافتاء تحقيق او په اړه يې د مشرتابه محترم عالي مقام حکم.

د مخکې ناچله شوي افغاني بانک نوټونو اړوند د مرکزي دارالافتاء تحقيق او په اړه يې د مشرتابه محترم عالي مقام حکم نمبر (۵٦۰۷/۲۲۸۳) مورخ ۱۴۴۷/۸/۱ هـ.ق د دې متحدالمآل مل په (۶) ورقو کې د عملي کولو په موخه تاسو ته واستول شول.

## د متحدالمآل ګڼه: ۲۹

**نېټه: ۱۴۴۷/۸/۲۱ هـ ق**

د سترې محکمې د تميزونو، رياستونو او محکمو قدرمنو منسوبينو ته!


السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

موضوع: د عفوې او تخفيف مستحق بنديانو معلومولو لپاره د هيئتی په هکله.

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د رئيس او قاضي القضات محترم الشيخ عبدالحکيم «الحقاني» صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د قضايي معاون محترم شيخ محمد قاسم «راسخ» صاحب، د سترې محکمې نظامي معاون محترم شيخ سردار محمد «ابوالفيضان» صاحب، د سترې محکمې د جنوب لوېديځ زون قضايي معاون محترم شيخ نورالله «منير» صاحب، د مرکزي تميز عالي رياست رئيس محترم شيخ محمد شريف «حقاني» صاحب او د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رئيس محترم مفتي عبدالرشيد «سعيد» صاحب په عضويت په دائر شوي مجلس مورخ ۱۴۴۷/۸/۱۵ هـ.ق کې د دوهمې پرېکړې په توسط داسې هدايت صادر شو: «د بنديانو د هيئتی طرزالعمل چې د مشرتابه محترم عالي مقام د حکم نمبر (۴۴۱۴) مورخ ۱۴۴۵/۸/۲۸ هـ.ق په توسط تائيد شوی او د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رياست د متحدالمآل نمبر (۴۰) مورخ ۱۴۴۵/۹/۸ هـ.ق په توسط ټولو محکمو ته استول شوی دی په ياد طرزالعمل کې د ذکر شوي هيئت په ترکيب کې دې د نظامي محکمې يو ملګری اضافه شي او د ټولو ولايتونو په محبسونو کې دې د ټولو محبوسينو هيئتي وکړي، د عفوې او تخفيف مستحق بنديان دې معلوم کړي او لستونه دې د مخکې په شان د سترې محکمې محترم عالي مقام ته د خپل نظر سره را واستوي البته د نظامي محکمو د بنديانو لستونه دې جلا ترتيب کړي تر څو يواځې د نظامي محکمو د عفوې او تخفيف مستحق بنديانو لستونه د مشرتابه محترم عالي مقام سره شريک شي.»

بناءً د بنديانو د هيئتی پورته ذکر شوی طرزالعمل او د بنديانو د هيئتی معلوماتي فورم ددې متحدالمآل مل په (۶) ورقو کې تاسو ته واستول شول تر څو د پورته تحرير شوي هدايت په نظر کې نيولو سره د ياد طرزالعمل مطابق د بنديانو هيئتي وشي، البته د بنديانو معلومات بالخصوص داچي مخکې تخفيف ورکول شوی يا نه او څومره تخفيف ورکول شوی او په هکله يې د هيئت نظر دې په واضح شکل وليکل شي، همدارنګه په کوم ولايت کې چې د جزاء او امنيت عامه دواړو ديوانونو بنديان وجود ولري هلته دې په هيئت کې د ښهري محکمې د جزاء ديوان يو ملګری او د امنيت عامه ديوان يو ملګری وجود ولري او په کوم ولايت کې چې د يوه ديوان بنديان وجود ولري هلته په هيئت کې يواځې د هماغه ديوان ملګری کفايت کوي.

يادونه: ياده هيئتي دې د راتلونکې شنبې مورخه ۱۴۴۷/۸/۲۶ هـ.ق څخه شروع شي او لستونه دې په دغه editorialsc3@gmail.com ايميل آدرس د سترې محکمې محترم عالي مقام د دفتر محترم رياست ته واستول شي.



# د ښځې، ودونو، مصيبتونو او همدارازله حج او عمرې څخه د راستنېدو پر مهال د ناسمو رواجونو د مخنيوي په هکله د عَالِيقَدر اَمِيرُالمؤمِنِين حَفِظَهُ الله تَعَالَى فرمان

**(دويمه برخه)**

په مهرونو کې زياتوالی غوره کار نه دی:

شريعت په ودونو کې د آسانتيا او له درنو مصارفو څخه د ډډې کولو ترغيب ورکوي.

له حضرت عائشې (رضي‌الله تعالی عنها) څخه روايت دی، چې رسول الله (صلی‌الله عليه وسلم) فرمايلي دي: ژباړه: په تحقيق سره، ډېره برکتي نکاح هغه ده چې لګښت يې لږ وي.[1]

په يو بل حديث شريف کې راځي:. ژباړه: په مهر کې له يو بل سره آسانۍ کوئ (يعني لږ مهر ټاکئ) ځکه کله نارينه ښځې ته دومره مهر ورکړي چې له امله يې له هغې ښځې سره په زړه کې کينه (نفرت) پيدا شي.[2]

حضرت عمر (رضي‌الله عنه) فرمايلي دي:. ژباړه: خبردار! د ښځو مهرونه ډېر مه زياتوئ؛ ځکه که د مهر زياتوالی دنيوي عزت او يا د الله (جل جلاله) په نزد تقوی وای؛ نو نبي کريم (صلی‌الله عليه وسلم) يې تر تاسې زيات مستحق و.[3]

له يادو او ځينو نورو مبارکو احاديثو څخه په استدلال سره، فقهاء کرامو (رحمةالله تعالی عليهم) په مهر کې تخفيف مسنون او مرغوب بللی دی.[4]

مهر، د منکوحې ښځې حق دی او بل هېچا ته يې خوړل صحيح نه دي.

مهر، د ښځې حق دی، بل هېڅوک حق نه لري چې د هغې له خوښې پرته يې مصرف کړي، تر دې چې فقهاء کرام (رحمهم الله تعالی) وايي: کوم پلرونه او نيکونه چې د لوڼو يا لمسيو مهرونه خوري هغوی غاصب او د مهر ضامن دي؛ نو چې پلار او نيکه د مهر په خوړلو غاصب ګڼل کيږي؛ ورور، تره او نورو خپلوانو ته خو بيخي هېڅ لار نشته چې د خويندو، وريرو او يا د نورو خپلوانو نجونو مهرونه وخوري، يا يې د هغوی له خوښې پرته مصرف کړي.[5]

پلرونه او خپلوان که د مهر له خوړلو راوګرځول شي، مهرونه خپله راکمېږي؛ ځکه نن سبا ډېرې پيسې هغه دي چې د مهر په نوم اخيستل کيږي؛ خو پلار يا نور خپلوان يې خوري او ښځو ته د مهر په نوم ډېرې کمې پيسې ورکوي.

١ ـ مسند احمد (٧٥/٤١) رقم الحديث (٢٤٥٢٩) مسند الصديقة عايشة بنت الصديق رضي الله عنها .

٢ ـ مصنف عبدالرزاق الصنعاني (١٧٤/٦) رقم الحديث (١٠٣٩٨)

٣ ـ ( صحيح سنن آبي داود ، باب الصداق ، برقم : ١٨٣٤)

٤ ـ « ولكن يسن تخفيف الصداق وعدم المغالاة في المهور، لقوله صلى الله عليه وسلم « ان اعظم النكاح بركة ايسره موونة » ان اعظم النساء بركة ايسرهن صداقاً وروى ابوداود وصححه الحاكم عن عقبة بن عامرحديث « خير الصداق آيسره » والحكمة من منع المغالاة في يالمهورواضحة وهي تيسير الزواج للشباب، حتى لا ينصرفوا عنه ، فتقع مفاسد خلقية واجتماعية متعددة ، وقد ورد في خطاب عمر السابق، « وان الرجل ليغلي بصدقة امراته حتى يكون لها عداوة في قلبه » النفقه الاسلامي وادلته (٦٧٦٤/٩) دارالفكر، سورية - دمشق .

٥ ـ فحاصلـه : ان في يالمهرحقوقا ثلاثة : احدهما حق الشرع وهو ان لايكونه اقل من عشرة دراهم او ما يساويها والثاني حق الاوليا وهو ان لايكون اقل من مهرالمثل والثالث حق المراة وهو كونه ملكا لها ثم حق الشرع والاولياء مراعى وقت الثبوت فقط فلا حق لهما حالة البقاء البحرالرائق (١٤٤/٣)

ـ (المادة ٩٧) لايجوزلاحد آن ياخذ مال احد بلاسبب شرعي مجلة الاحكام العدليه (ص :٢٧)

نعم ان كان الاب ياكل مهورالبنات كالفلاحين والاعراب فالقول بتضمينه اذا مات مجيلا ظاهر، لانه غاصب من اول الامر: لانه انما قبض المهرلنفسه لالبنته فليكن التعويل على هذا التفصيل والله تعالى اعلم — العقود الدرية في تنقيح الفتاوى الحامدية (٧٤/٢).

اذاكان الاب ممن ياكل مهور البنات كالفلاحين والاعراب ، قالقول بتضمينه اذا مات مجهلا ظاهرلانه غاصب من اول الامر، لانه قبض المهر لنفسه لالبنته ، فليكن التعويل على هذا التفصيل ومثله الجد كما مراه قره عين الاخبار لتكملة رد المحتارعلي الدرالمختار(٤٨٢/٨)

كالاب كما في الخانية ...... بخلاف سائرالاولياء ليس لهم حق قبض مهرها بدون امرها بانه معبرالبحر الرائق (١١٨/٣)

میزان

د ليکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست

publications.sc١٤٤٣@gmail.com
www.supremecourt.gov.af

د ټليفون شميرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱ ۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳